


زما ګُوډۍ ډوډۍ نه خوري- ما ترې تپوس
وکړو، "ګوډۍ ته ولې ډوډۍ نه خورې"؟
هغې وئیل، "باجي! زهٔ ډېره خفه یم- په کور
کښې ډېره تنګه شوې یم- بهر مې سېل ته زړهٔ
کېږي- په ما باندې د ښکلو ځایونو
سېل وکړه کهٔ نهٔ"-



ما ورته وئیل، ”بس دا خبره ده؟ خفه کېږه مه-
ډوډۍ وخوره نو بیا سېل له ځو-“ ډوډۍ نه پس
مونږ په الوتونکې صوفه کښېنا ستو- ما چې
څنګه د صوفې بټن ووهله نو صوفه په مزه مزه
په هوا کښې پورته روانه شوه- د کور خلکو
راته په مخه ښه ووئیل- ما صوفې ته ووئیل،
”صوفې پورته په هوا شه او سېل په مونږ کوه“



صوفه د شنو پټو او فصلونو د پاسه الوته- ګوډۍ ووئیل، "اها! دومره شنهٔ پټي، زهٔ خو دلته کوزیږم"- صوفه ورو غونډې په یوه پوله کوزه شوه- یو طرف ته د ګاڼرو، مولو او ګوپیانو پټې وهٔ او بل طرف ته د ګنو فصل ولاړ وهٔ- یخو بادونو او روښانه نمر راله زړهٔ خوشحاله کړهٔ-




صوفه د سیندونو، نهرونو، د وړو او غټو پُلونو د پاڅه الوته- په یو غټ سیند باندې بند تړلے شوے وۀ چې پکښې ډېرې اوبۀ جمع وې- دا ډېم وۀ او خلک یې سېل له راغلي وو- ډېم سره خوا کښې چمن و- خلکو به په کښې خوراک کولو او پوستکي به ئې په چمن کښې غوړزول-



ما او ګوډۍ هلته ترسکون کبان او خوارۀ
کېنوان وخوړل او خځله مو په ډسټ بِن کښې
واچوله- نورو ماشومانو چې راته وکَتل نو
هغوي هم خپلې خځله په ډسټ بِن کښې
واچولې- مونږ هغوي ته لاس و خوزولو او
په صوفه کښېناستو، ما صوفې ته ووئيل،
"صوفې پورته په هوا، سبل په مونږ کوه"



صوفه والوته او یو غر ته ورسېده- د غر څوکه د واورې ډکه وه- هلته د چلغوزو او غوزانو ونې وې- یواړخ ته یو سړي ونه رېبله- په دې کښې دوه کسان راغلل او سړي یې د ونې پرېکولو نه منع کړو- ورته یې ووئیل، "ونې مه غوڅوه ګني نو سېلابونه به راشي"- سړے ملامته شۀ او ونه رېبل یې بس کړل- مونږ واپس په صوفه کښېناستو- ما صوفې ته ووئیل، "صوفې پورته په هوا، سېل په مونږ کوه"



صوفه ډېره لرې پورې والوته- مونږ چې لاندې وکتل نو په نظر مو بس شګې او بېدیا راتله- ګوډۍ ووئیل، ”دې صحرا کښې به لا څوک وسېږي ؟“ ما ووئیل، ”په صحرا کښې اوښان ښۀ خوشحاله وي، ځکه چې دوي د اوبواو خوراک نه بغېر ډېره موده پاتې کېدلي شي“- ما صوفې ته ووئیل، ”صوفې پورته په هوا ، سېل په مونږ کوه“




بیا مونږ سمندر ته ورسېدو- د سمندر په غاړه غټه سمندري بېړه ولاړه وه- مونږ په شګو کښې کورکي جوړ کړل او کونجکې مو راټولې کړې- د اوښ په کیجاوه کښې کښېناستو او ډېر سېل مو وکړو- بیا راستانهٔ شو اوصوفې ته مې ووئیل، ”صوفې پورته په هوا، سېل په مونږ کوه“



دا ځل صوفه ځنګل ته ورسېده- سم ګڼ ځنګل
وۀ- بیزوګانې د ونو په ښانګو ځنګېدې را
ځنګېدې- زرافه په اوږده غړۍ د ونو نه پاڼې
خوړې- ناګهانه یو زمرے د غار نه راووتۀ-
ګوډۍ چې ولیدۀ نو د ویرې نه یې چغه کړه،
"وئ مورې مړه شوم"-



مونږ زر صوفې ته و ختو- ما صوفې ته ووئيل،
"صوفې پورته په هوا، کورته مو رسوه"- صوفه
په هوا شوه او د سيندونو، ميدانونو او غرونو
د پاسه والوته او کور ته يې راوستو- چې را
ورسېدو نو ايله ساه صورت شُو-



ټولو ته مو سلام وکړ- نیا نیکۀ مو شکر
وویستۀ او په سر یې راله لاس کېښودۀ- په
دې کښې زما سترګې و غړېدې- وئ دا خو
ما خوب لیدۀ- ګوډۍ مې ځان ته را نږدې کړه
او په خندا شوم-

# بګ بکس

## د دوېم جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځهٔ کلن پروګرام دے چې، د بېن الاقوامي ترقۍ د پاره امريکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- د دې پروګرام مقصد په پاکستان کښې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره د ذده کوونکیو د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دي- په دې لړ کښې پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کوونکیو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ د پاره مختلف تکنیکي، تعلیمي او د ښودنې مواد تیار کړي دي-

بګ بُکس ددې تعلیمي موادو یو مهمه برخه ده- د 24 هفتو د پاره 12 بِګ بُکس لیکلې شوي دي- یو بِګ بُک به په دوؤ هفتو کښې لوستلې شي- استاذان به دا بګ بُکس د "اوچت اواز" په طریقه لولي- د هر بګ بُک په وروستنې مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي- استاذان دې په هفته کښې دوه ورځې دا سرګرمۍ ضرور وکړي- د بِګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خیال وساتئ چې ماشومانو ته ټوله قیصه واورولې شي- د دې کتابونو لیکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي- مثلا د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصویري خاکې پېش کول وغېره-

د دې محنت په نتیجه کښې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي ، دغږنو علم، د ټکیو ذخیره، د لوستلو رواني، او د تفهیم صلاحیتونو ته وده ورکړي شي- دا کتابونه به په خصوصي توګه د لائبرېریو برخه وي چې راتلونکي ماشومان ترې هم ګټې تر لاسه کړي او د پښتو په لوستلو کښې به د دلچسپۍ دا سلسله هم روانه وي-
مونږ هیله لرو چې د پي ار پي دا محنت د خېبرپښتونخوا په پرائمري سکولونو کښې د لوستلو معیار ښهٔ کولو کښې معاون ثابت شي-

پاکستان ریډنګ پراجېکټ کښې لاندیني تعلیمي او د ښودنې مواد شامل دي-

- ټي اَئي جي ماډیولز
- سبقي منصوبې
- ویډیوز
- ورک بُک
- بِګ بُکس
- فلېش کارډونه
- د ارکانو چارټونه




د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کښې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کښې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# استاذانو د پاره لارښوونې

نوټ: استاذان دې هره ورځ ماشومانو ته ټوله قيصې اوروي او په لاندينې لارښوونو دې عمل وکړي-

## وړومبۍ ورځ (خبرې اترې: پېش ګوئي او سابقه معلومات)

### د لوستلو نه مخکښې

د سرپاڼې ښودلو په وخت تپوس وکړئ:
- تاسو ته په تصوير کښې څۀ څۀ ښکاري؟
- دا څنګه صوفه ده؟ تاسو چرته داسې صوفه ليدلې ده؟
- ستاسو په خيال دا قيصې د څۀ په حقله ده؟

### د لوستلو په وخت

- ستاسو په خيال واورين او ګوډۍ به سېل له کوم کوم ځايونو ته ځي؟
- په 5 مخ جمله "په يو غټ سيند باندې بند تړلے شوے وۀ" د لوستلو نه پس تپوس وکړئ، تاسو کښې چا بند ليدلے دے؟ د هغې په حقله څۀ ووايئ؟
- ګوډۍ دا ولې ووئيل چې په صحرا کښې به له څوک ووسي؟
- د 7 مخ وړومبۍ جمله د لوستلو نه پس تپوس وکړئ، تاسو کښې چا غر ليدلے دے؟ په دې حقله څۀ ووايئ؟

### د لوستلو نه پس

- په قيصې کښې چې د ګل ځانګې سترګې وغړېدې نو هغه ولې حېرانه شوه؟
- واورين او ګوډۍ د کومو کومو ځايونو سېل وکړو؟
- په دې کښې ستاسو کوم ځايونه خوښ شول؟ ولې؟

## دويمه ورځ (د ارکانو مشق)

### د لوستلو نه مخکښې

- په سر پاڼه سرخط ته اشاره وکړئ او تپوس وکړئ، تاسو خپله ژبه کښې "مونږه ځو په سېل" ته څۀ وايئ ؟

### د لوستلو په وخت

- په 2 مخ جمله "د کور خلکو راته په مخه ښه ووئيل" ولولئ او ماشومانو ته په خپله ژبه کښې دا جمله څنګه وايئ؟
- په 4 مخ جمله "د ډوډۍ مزه يو په دوه شوه" ولولئ او ماشومانو ته ووايئ چې په خپلو ټکو کښې د تاثراتو سره دا جمله ووائي-
- په 11 مخ جمله "چې کورته ورسېدو نو مونږ کښې ساه راغله" ولولئ او ماشومانو ته ووايئ چې په خپله ژبه کښې د تاثراتو سره دا جمله ووائي-

### د لوستلو نه پس

- ماشومانو سره د لاندينيو ټکيو ارکان د لاسونو په پړقا کښې ادا کړئ-

ټکي: صوفه، ګوډۍ، الوتونکې، مېلمستيا، سيندونه، زنګېدې

## درېمه ورځ (د ټکيو پنګه: محاورې او اصطلاحات)

### د لوستلو په وخت

- ستاسو په خيال واورين او ګوډۍ به سېل د پاره چرته چرته ځي؟
- په 2 مخ جمله "د ډوډۍ مزه يو په دوه شوه" مطلب "ډېره مزه ئې وکړه" د يوې جملې په مدد ددې وضاحت وکړئ لکه: -"د اختر په ورځ چې د ماما کورنۍ راغله نو د اختر مزه يو په دوه شوه" اوس د جملو جوړولو په وخت د ماشومانو مرسته وکړئ-
- په 11 مخ جمله "چې کورته ورسېدلو نو ساه صورت شو" مطلب "خوشحاله شو" د يوې جملې په مدد ددې وضاحت وکړئ لکه: "په ګرمۍ کښې چې مو يخې اوبۀ وڅښلې نو مونږ په ساه صورت شو"- په جملو جوړولو کښې د ماشومانو مرسته وکړئ-
- په 12 مخ جمله "زما چې سترګې وغړېدې" مطلب "راويښ شوم" د جملې مثال ورکړئ لکه: بهر د ګاډو د شور د لاسه زما سترګې وغړېدې- په ماشومانو هم "سترګې وغړېدې" په جملو کښې استعمال کړئ-

## څلورمه ورځ (خبرې اترې: د ذاتي ژوند په حقله)

### د لوستلو نه مخکښې

- په قيصې کښې کوم کوم کردارونه دي؟

### د لوستلو په وخت

- تاسو خزله په زمکه غورزوئ؟ ولې؟ ولې نه؟
- کوم خلک چې پارک کښې خزله اچوي نو تاسو به ورته څۀ وايئ؟ ولې؟
- کۀ تاسو يو سړے په ونه پرېکولو ليدلے وے نو تاسو به څۀ وئيل؟ ولې؟
- په صحرا کښې خلک ژوند ولې نۀ شي کولے؟ په 7 مخ وړومبۍ جمله د لوستلو نه پس تپوس وکړئ، تاسو کښې چا غر ليدلے دے؟ د هغې په حقله ووايئ

### د لوستلو نه پس

- ستاسو په خيال الوتونکې صوفه رښتيا کېدے شي؟ څنګه؟
- هغوې چې د کومو ځايونو سېل وکړۀ تاسو په هغې کښې کوم کوم ليدلي دي؟
- تاسو ددې قيصې کوم کردار جوړېدل غواړئ؟ ولې؟

www.pakreading.org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID). It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government. The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government.

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلکو په مرسته د امريکې بېن الاقوامي ترقۍ اداري په لاس ممکن شوې ده- دا مواد يو اېس اېډ- پاکستان رېډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان رېډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د يو اېس اېډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-